انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱٦/۱۲/۱۱

# د افغانستان لیتیوم او د زیرمو لوټ

دویمه برخه

## په افغانستان کی د لیتیوم د فلز د زخیرو د کشف ډرامه:

د بن د توافقاتو نه وروسته د ښاغلی حامد کرزی د زمامداری په وخت په (۲۰۰۴) کال کی د انګلستان جیالوجیکی سروی او د متحده ایالاتو جیالوجیکی سروی ادارو، د افغانستان د جیالوجیکی سروی اداره په شریکه سره په خپل لاس کی ونیوله، د تنظیمی جګړو په نتیجه کی د دی اداری وران تعمیر چی د بوت آهو د فابریکی او عسکری مسلخ په منځ کی جوړ شوی و، بیرته په ډیر بد کیفیت سره نیم و نیمکله ورغاوه. د دی دوه هیوادو ادارو بی له دی چی افغان دولت ته د خپل کار د اجرا پلان ور وښای په نامنظمه او نا هم اهنګه توګه ځنی جیو فزیکی څیړنی سرته ورسولی، ددی څیړنو او تحقیقاتو نتیجه لا نه وه څرګنده چی په (۲۰۱۰) کال کی د متحده ایالاتو د جیالوجیکی اداری یو ډراماتیک خبر خپور کړ چی په افغانستان کی د غزنی په ولایت کی یی د یو ټریلیون ډالرو نه په زیات قیمت سره د لیتیوم د فلز زخیره میندلی ده. مخکی له دی چی د دی ګرمی اوازی په هکله څه و ویل شی بده به نه وی چی ګرانو لوستونکو ته د لیتیوم د عنصر په باره کی څه لنډ معلومات وړاندی شی.

لیتیوم د ډیرو سپکو القلی فلزاتو د ګروپ د سودیم او پوتاسیوم نه وروسته دریم فلز دی. د اوکسیجن او آزادی هوا په مقابل کی ډیر حساس دی او فوراً اوکساید جوړوی، نو له همدی وجهی نه کله چی په خالصه توګه استحصال شی نو بیایی په تیلو او یا نورو غوړو میعاتو کی ساتی. د اوبو په مقابل کی هم ډیر فعال دی، که په اوبو کی واچول شی نو داچی کثافت یی تر اوبو کم دی یعنی دا فلز د اوبو نه سپک دی نو د اوبو په سر پاتی کیږی. رنګ سپین یا نقره یی ډوله دی. د افلز په (۱۸۱۷) کال د جان ارف وید سن (John Arfvedson) له خوا د پیتالایت (Petalite) په نوم په یو منرال کی چی د لاتینی کلمی (Littes) څخه چی د ډبری معنی لری اخستل شوی دی او دا لومړی ځل و چی دا سپک فلز په ډبره کی و میندل شو. داچی د سپکو فلزاتو دوه نور عناصر سودیم او پوتاسیوم له نباتاتو څخه په لاس راغلی ول نو ځکه یی دی دریم سپک فلز ته د لیتیوم نوم ورکړ. په صنعت کی دا فلز په (۱۹۲۳) کال کتی ا خستنی ته وړاندی شو.



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

لکه ځنګه چی و ویل شو دا فلز هیڅوخت په خالص ډول نه پیدا کیږی، د حاصلولو ښه او صنعتی سُرس (Sources) یی دا لاندی منرالونه دی:

ـ سپودوماین چی له ۴ نه تر ۸ سلنی پوری لیتیوم لری.

ـ امبلیګونایت چی له ۸ نه تر ۱۰ = = = = = =

ـ لیپیدولایت = = ۲ نه تر ۴ = = = = =

ـ زنوالدایت = = ۲ نه تر ۳،۵ = = = = =

ـ پتالایت = = ۲ نه تر ۴ = = = =

ـ تری فیلایت = = ۲ نه تر ۶ = = = =

ـ لیتو فیلایت = = ۲ نه تر ۶ = = = =

ځنی نور منرالونه هم شته چی دا عنصر تری په لاس راځی. ټول هغه منرالونه چی د ا عنصر تری حاصلیږی هغه ټول د ناریه احجارو د یوه خاص ټیپ منرالونه دی چی پګماتایت ورته وای ( پګماتایت ناریه مواد دی چی د ځمکی د قشر د احجارو په درزونو کی راپورته کیږی، ورو ورو سړیږی او غټ دانه کرستالونه جوړوی)

علاوه له دی منرالونو څخه په ننني صنعت کی د لیتیومو د فلز زیات مقدار د براین Brine له مالګینو اوبو څخه په لاس راځی چی په خپل ترکیب کی د لیتیوم کاربونات مالګی لری.

د لیتیومو د حصول دغه سُرس د هغی ډبرین او منرالی سُرس ته ارزانه تمامیږی.

د لیتیومو نړیوال زخایر: په تقریبی توګه متحده ایالات ۷۶۰ زره ټنه لیتیوم لری او په نوره نړی کی یی زخیره تردی مهاله تقریباً ۱۲ میلیونه ټنه محاسبه شویده. روسیه او چین هم د لیتیومو لوی معدنونه لری، خو په اوسنیو شرایطو کی دا ورته ارزانه تمامیږی چی خپل د اړتیا وړ لیتیوم د چیلی له هیواد څخه واردوی. لوی تولیدونکی هیوادونه یی چیلی، بولویا، ارجنتاین دی، افغانستان هم تر کانادا وروسته د دی عنصر لوی زیرمی لری.

په افغانستان کی د یو پر پنځه سوه زره (۱:۵۰۰،۰۰۰) مقیاس د نقشی د راپور له مخی د لیتیومو معدنی زاخایر په لاندی سیمو کی شتون لری: د بدخشان د ولایت د تال بوزک، د کوکچی د دریاب مسیراو اشکاشم په سیمو کی. د کونړ د ولایت د پچیګرام، پارون، کانتیوا، پاس ګوشته، جامنک، یاری کل، دروم ګل، پاشکی، سام ګل، دره پیچ او مارید په سیمو کی. د لغمان د ولایت د الینګار، شماکت او شهیدان په سیموکی او د اوروزګان ولایت د تګاولور په سیمه او همدارنګه د هیواد په نورو سیمو کی.

د لیتیوم عنصر د عادی تخنیک نه نیولی بیا تر عالی او کیهانی تخنیک پوری د استعمال ډیره پراخه ساحه لری. د نړۍ د استحصالی لیتیومو نیما یی مقدار د شیشه سازی په صنعت، سرامیک (کراکری)، الومنیمی الیاژو، رابر جوړولو، ګریس جوړولو او نورو روغنیاتو کی کارول کیږی. په دی تیرو لسو پنځلسو کلونو کی د بطریو په صنعت کی هم تری کار اخستل کیږی،تراوسه یواځی د سل فونونو او لاپ ټاپونو په بطریو کی د بیا چارجونکی مادی په توګه تری په پراخه پیمانه کار اخستل شویدی. برسیره پردی لیتیوم د ځینو نورو سپکو فلزاتو لکه المونیم او مګنیزم سره ډیر قوی او کم وزنه الیاژ جوړوی. د دی برسیره دلیتیومو کاربوناتی فورم لکه لیتیوم کابونات یا لیتیوم سترایت

په طبابت کی د ځینو امراضو د تداوی د پاره لکه نقرس یا Gout او عصبی یا Mental ناروغیو د تداوی د پاره هم استعمالیږی.

د ۲۰۱۰ کال د جون د میاشتی په ۱۷ نیټه د متحده ایالاتو یوه پیژندل شوی جیالوجست ښاغلی هیوری ج ریسکی په نشنل جغرافیه کی په دی برخه کی یوه مقاله خپره کړه چی نوم یی و «د افغانستان د لیتیومو د شتمنی کیسه د غافلولو بله لار» یا(Afghanistan Lithium Wealth Could Remain Elusive ) . په دی مقاله کی ښاغلی هیوری داسی لیکلی دی:

ـ په ۱۹۷۷ کال کی د پخوانی شوروی اتحاد او افغان جیولوجستانو د (۱:۵۰۰،۰۰۰) مقیاس جیالوجیکی او معدنی نقشی د جوړولو کار په بشپړه توګه پای ته ورساوه.

ـ په ۱۹۷۹ کال کی شوروی اتحاد افغانستان ته خپل عسکر ور داخل کړل، جنګ پیل شو او اکتشافی کارونه له یوی مخی توقف شول.

ـ په ۲۰۰۱ کال کی د متحده ایالاتو او انګلستان هیوادونو عسکر د القاعدی د زپلو په بهانه افغانستان ته ننوتل، د طالبانو رژیم یی را نسکور او د بُن د توافقاتو په نتیجه کی یی د حامد کرزی تر مشری لاندی یی ګډوله حکومت جوړ که.

ـ په ۲۰۰۴ کال کی د بریطانیی د جیالوجیکی سروی، د متحده ایالاتو جیالوجیکی سروی او د افغانستان د جیالوجیکی سروی ادارو دری واړو په ګډه په نا منظمه او بی پلانه توګه د افغانستان د کانی منابعو د څیړنی او مطالعی د پاره هلی ځلی پیل کړی.

ـ په ۲۰۰۷ کال کی د متحده ایالاتو جیالوجیکی مؤسسی و ویل چی افغانستان څه داسی معدنی زخیری لری چی لاکشف شوی نه دی خوکه په کار واچول شی د دی هیواد په اقتصاد کی تغیر راوستلی شی.

ـ د دوه کلونو په تیریدلو سره اوس د متحده ایالاتو هغه محدوده ډله چی چی د پنټګان د اداری پوری مربوط دی د خپلو نیمګړو او یواځی جیو فزیکی تحقیقاتو په نتیجه کی د لیتیومو د تریلیون ډالرو په ارزښت خبر ورکونه یو څه ډراماتیکه بڼه لری.

ـ زه د یوه جیالو جست په توګه دا نه هیروم چی په افغانستان کی به د (یو) نه بلکی څوتریلیونو ډالرو په ارزښت نا کشف شوی کانی زخایر موجود وی، خو بیا هم د یو جیالوجست په صفت دا هم ډیره سخته ده چی بی له اکتشافی مراحلو له سرته رسولو، بی له محاسبی، بی د کوهی شرایطو له تحلیل، بی له ترانسپورتی ستونزو، بی له امنیتی ستونزو او نورو اونورو د تاثیراتو نه پرته دا ومنم چی افغانستان د لیتیومو د زخیرو له کبله د تیلو سعودی عربستان جوړ شوی او یا به جوړ شی.

ـ د یوه معدن د دقیقی سروی وروسته چی د معدن زخیره په صنعتی کټګوریو محاسبه شی، د معدن د استخراج نه د مخه د استخراج عملی امکانات باید و څیړل سی چی د ی څیړنی ته فزیبیلټي (Feasibility Study) مطالعه وایی. د دی مطالعی وروستی راپور مونږ ته د هر معدن ارزښت په جهانی مارکیت کی را وښای.

ـ د نړی هیڅ کمپنی بی د فزیبیلیټی راپور له مطالعی څخه د هیڅ معدن په برخه کی پانګه اچونه نه کوی. هر څوک چی غواړی چی معدن یا معادن یوی کمپنی ته د استخراجی سرمایه ګزاری د پاره آفر کاندی نو د پروژی د عملی کیدو د پاره باید د نوموړی معدن فزیبیلیټی څیرنی او مطالعات د داو طلبی د پاره وړاندی کړی.

په فزیبیلیټی راپور یا څیرنه کی لاندی شیان په نظر کی نیول کیږی:

۱ ـ د معدن دیزاین (Mine Design) : چی لاندی برخی پکی شامیلیږی:

الف: د معدن لیتولوجی یا د ډبرو نوعیت او په دی ډبروکی د مفیده مادی د موجودیت اندازه.

ب: د معدن د احجارو میخانیکی خاضیت لک: (نرمی،سختی،درزداریت،شکستگی او نور.

ج: په نوموړو احجارو کی د مفیده مادی انتشار او موقعیت او د معدنی کتلی منطقی څیړنه.

۲ ـ د کارد سامان اونورو امکاناتوبرابرول Mining equipment and facilities:

الف: د لومړنی پانگی اچونی ټاکنه او د هغی برابرونه.

ب: استخراجی طریقی او د هغی د بیدیل انتخاب.

ج: د معدنی کتلی د ارزښت ټاکل او زمانی ارزیابی.

۳ : د معدنی چارو منجمنت او د بشری قوی ارزیابی: Mine management and labor assessment:)

الف: بی خطره تخنیک او روغتیایی حالاتو ته پاملرنه.

ب: د معدنی کتلی د لاس ته راوړنی څارنه.

۴: سطحی اسانتیاوی: Surface Facilities

الف: معدنی خدمات.

تر لاسه شوی مواد په مؤثره توگه بلی مرحلی ته رسول.

۵: منطقوی شرایط: Regional Infrastructure

الف: ترانسپورت.

ب: برقی انرژی.

ج: د لازم مقدار اوبو تهیه.

د: ارتباط اود اړیکو ټینگونه.

هـ : د کارگرانو د پاره د یوه مکمل شهرک د خوړولو په پام کی نیول.

۶ ـ اقتصادی ارزیابی د ځینو اټکلونو سره::(Economic evaluation including forecast) or (Ecology)

په دی برخه کی دغه مطالب شامل دی: د معدن د بندولو طریقه د چاپیریال ککړتیا او ارزیابی، د ساختمانی چارو تقسیم او قات، د مارکیت د تغیر دایمی تحلیل، د تراسپورت بیلی بیلی طریقی په پام کی نیول، ناحساب شوی پولی ضایعات، د حساسیتونو مطالعه، د کارونو همغږی او ځنی نوری ضروری چاری.

زه په دی کی څه شک لرم چی د امریکا د متحده ایالاتو تکنالوجی به دومره پر مختللی وی، چی ممکن یواځی د معدن په سر د جیالوجستانو یوه الوتنه یا پرواز له هوا نه دغه ټول څیزونه چی اشاره ورته وشوه خانته معلوم کړی وی؟ او بیا به یی په افغانستان کی یی د لیتیومو زخیره سنجولی وی او د موجوده جهانی قیمت له مخی به یی ورته قیمت ورکړی وی. د دی تر څنگ د جیالوجی د علم د اساساتو او د معدنی زخایرو د خصلت له مخی بی له ساحوی کاراو په معدنی برخه کی بی د عملی اکتشافی میتودونو د سرته رسولو پرته د یوه معدن د اهمیت او د قیمت په باره کی خبری کول بی له دی چی د خلکو د اغوا او بلی لوری ته د پام اړونی او نورو سیاسی هدفونو د پاره تری کار واخستل شی بله کومه گټه څکه نه لری چی حقیقت نه لری.دا و په دی هکله د ښاغلی هوری نظر.

ما تر ډیره حده د امریکا د متحده ایالاتو او د انګریزی جیالوجستانو هغه کارونه چی د افغان جیالوجستانو سره یی یوځای په دا تیرو دولسو کلونو کی سرته رسولی مطالعه کړی او لیدلی دی. د دوی ستر کار چی تر اوسه یی په افغانستان کی سرته رسولی هغه په ځینو خاصو او هغو سیموکی چی د دوی د تصرف لاندی وی د جیوفزیکی تحقیقاتو څخه چی په کلی توګه د یوی سیمی د جیالوجیکی جوړښت یعنی د قشری احجارو د ټیپ او سترکچر په هکله د جازبوی او یا موجی طریقو په مرسته معلو مات وړاندی کوی، نوریی هیڅ ډول تفحصی او اکتشافی کار نه دی اجراکړی او د هیڅ معدن مکمله ارزیابی نه ده کړی، نو څنګه دا ډول ډراماتیک تبلیغات چی تر لسګونو نورو کلونو پوری به هم د دی هیواد شتمنی د هغه د وړو انسانانو نسونه ماړه نه شی کړلی د مسلکی کسانو پام ځانته ور واړوی؟ او په دی به معتقد شی چی د دی هیواد دا طبیعی زیرمی به دی هیواد ته تر دری ټریلیونو ډالروپوری سر مایه جوړه کړی؟ د دی فکر کولو نه د مخه دا فکر په کار دی چی دا معدنی زخایر چی د نیم نه زیاته برخه یی همد اوس د زور مندانو او محلی چارواکو له خوا په غیر فنی توګه استخراجیږی، او د قاچاق په توګه نورو هیوادو خصوصاً ګاونډیو هیوادونه ځی د فنی استخراج د پاره چی د یوه دولتی پلان لاندی د ټول ملت په ګټه تر سره شی څومره بودجه باید و لګول شی، تر څو د افغانستان معدنونه استخراج او ګټی اخستنی ته چمتو شی؟؟

د افغانستان د کانی زیرمو چور چپاول ته یوه لنډه کتنه:

د ۱۳۵۷ کال د ثور د کودتا نه ورسته لاهم تریو بونیم کاله پوری د افغانستان معدنونه په دیره کمه اندازه د محلی خلکو له خوا په غیر فنی او تخریبی توګه استخراجیدل. د ۱۳۵۸ کال د جدی په میاشت کی د پخوانی شوروی اتحاد د پوځی تیری وروسته ورو ورو د جنګ لمنه پراخه شوه او د بل کال تر نیمایی پوری تقریباً ټول معدنونه د دولت له لاسه و وتل او د امکان تر حده پوری هر معدن خصوصاً د قیمتی احجارو (Precious Stones) معدنونه په مکمله توګه د محلی خلکو له خوا تر ولکی لاندی ونیول شول.

ما په ۱۳۵۸ کال کی د پنجشیر د زمردو په معدن کی د انجنیر په توګه کار کاوه او په ضمن کی د اکتشافی ګروپ مسؤلیت هم را په غاړه و، زمونږ انجنیران په دری ساحو کی چی عبارت ول د (خینچ)، (مکینی) او (دشت ریوت) له ساحو څخه، کار کاوه. د همدی کال د میزان په میاشت کی احمدشاه مسعود چی ویل کیده تازه له پاکستان نه راستون شوی و، مونږ ته یو لیک را ولیږه او په هغه کی راته لیکلی و چی « مجاهدین به معدن ضرورت دارد هرچه زود تر از ساحه خارج شوید ورنه میدانید که ........». ما د مخابری له لاری د مرکز سره اړیکه ونیوله، د کانو او صنایعو وزیر محمد اسماعیل دانش راته د یو ه تلګرام له لاری امر وکه چی:« تمام سامان های قابل انتقال با تمام پرسونل به کابل برګردند. ماشین و الات ثقیل از قبیل کمپریسورها، جنراتورها، دستګاه های برمه وغیره که برای فعلاً قابل انتقال نیست در تونل ها جابجا و دروازه های تونل ها محکم بسته ګردند و به پوسته های امنیتی معادن در تمام محلات تسلیم داده شوند».

دلته شاید د ځینو درنو لوستونکو سره سوال پیداشی چی احمدشاه مسعود ولی مونږته د معدن د تخلیه کید خبر راکړ؟ زما په اند، دی خبری دوه دلیله درلوده : لومړی داچی ما هغه د پولی تخنیک له وختو څخه چی د مانه یوه دوره ورسته و، پیژانده، په لیلیه کی زمونږ کوټی ته مخامخ د هغه د یوه نژدی ملګری چی محمد اسماعیل نومیده کوټه وه، او احمدشاه مسعود به چی په نهاری توګه یی پوهنځی لوسته د هغه کوټی ته ډیر راته او زمونږ سره یی هم ښه دوستانه اړیکی او سلام علیک درلود. نو شاید دا پیژند ګلوی به لومړی دلیل و چی هغه مونږ ته بی د ضرر رسولو څخه د معدن د خوشی کیدو خبر راکړ او دوهم داچی مسعود

هغه وخت دومره قوی نه و چی په خلاصو مټو په زور سره د معدن مالک شی، نو شاید غوښتل به یی چی یو څه په خاموشانه توګه او احتیاط سره پر مخ و لاړشی.( والله اعلم).

په هر صورت مونږ د وزارت د مقام د امر سره سم په چټکی سره خپل کارونه خلاص کړل، ټول معدنونه مو د سامان سره یوځای امنیتی پوستو ته وسپارل او د عقرب په میاشت کی له پنجشیر نه را و وتلو. لس ورځی وروسته خبر راغی چی د مسعود قواو د امنیتی پو ستو ټول افراد وژلی او په ټولو معدنونو یی کامل تصرف تر د لاسه کړیدی.
چی په دی حساب له هماغه وخته یعنی له ۱۳۵۸ د عقرب میاشتی تر ننه پوری یعنی (۳۷) کاله کیږی چی د پنجشیر د زمردو له معادنو څخه په غیر فنی توګه شخصی استفاده کیږی او د سیمی د زور واکانو او په خاصه توګه د قهرمان مسعود د ورثه و، په تسلط کی دی.